# د ډاکټر شېر زمان طائزي د ناولونو ګل خان او امانت تنقيدي جائزه

# A Critical Analysis of Two Novels *Gul Khan* and *Amanat* of Dr Sher Zaman Taizi

Mehnaz Gul [1]

The beginning and development of Novel in Pashto language and literature provide the base for a research work through the contribution of a renowned novelist Dr Sher Zaman Taizi's two earlier novels "Gul khan" and "Amanat".Through this way all the essentials have been included regarding novel writing style and many experiments trends of novel research and analysis.

د ستر ناول نګار محقق ، شاعر او صحافي خداے بخښلي ډاکټر شېر زمان طائزي د فنِ ناول نګارۍ په حقله د ليکلو نه اګاهو دا غوره ګڼم چې پښتو ادب کښې دناول نګارۍ په شروات او پېل مختصره شان رڼا واچوم -

پښتو ادب کښې د ناول نګار د فن د اغاز کومې نخښې نښانې د تاريخ په پاڼو کښې مونده شي په هغوکښې وړومبے اثر "نقش نګين" دے د ډپټي نذير احمد د اردو ناول "مراة العروس" دا پښتو ژباړه ميا حسيب ګل کاکاخېل په کال ۱۸۹۳ء۱ کښې کړې ده او هم ددې ترجمې په وساطت ئې پښتو ژبه کښې د ناول نګارۍ اغاز شوے دے - دغسې په پښتو ژبه کښې چې کوم وړومبے طبع زاد ناول ليکل شوے دے - هغه د راحت زاخېلي "مارخ" ګڼلے شي - چې په کال ۱۹۱۲ء۲ کښې رقم شوے دے - هر څو که دا ناول نيمګړے هم دے ولې په پښتو ژبه کښې د ناول نګارۍ د زنځير وړومبۍ کړۍ ضرور ده -

---

1 Ph.D Research Scholar Pashto Department, University of Peshawar

هم دغسې د پښتو ناول نګارۍ د تاريخ نه دا خبره جوته ده چې په پښتو کښې مکمل طبع زاد ناول "پيغله" دے چې صاحبزاده په کال 1950ء کښې ليکلے دے ـ دې پسې بيا د رئيس المتغزلين حمزه بابا ناول "نوې چپې" چاپ شۀ ـ دغه راز د کابل افغانستان په خاوره هم د ناول انګازې د نور محمد ترکۍ ناول "بې غېرته زوے" 1939ء ، سنګسار (1943)، څره 1956ء ، او د بنګ مسافري 1958ء ، د اشرف دراني زړګي سترګې 1957ء او دغه رنګ بيا د ناول نګارۍ لړۍ اوږدېده چې په نتيجه کښې ئې د سېد رسول رسا مامونۍ ، شمۍ، مېخانه ، د ډاکټر طائزي ګل خان، غونډے، امانت، کړکېچ ، وادۀ ونۀ شۀ. د سلطان محمد خان "ماټو خان" چاودې ښيښه، هيرې او ايرې، د غلام غوث خېبري، ابدالي توره، د حبيب افغاني پيرۍ مينه او فرض د عبدالناصر زخمي ، وره بي بي ، د دلسوز، ګل خوبونه، د رحيم شاه رحيم راجګنه او بي بي مبارکه، د محمد ابراهيم شبنم خوابښې انړور او اجړا، د خدوخېل غازيان، د سعيد الدين شپو شين ټاغے ، د تاج خټك کډه په سر او پيټے ، د محمد حسين خليل غم مۀ کوه ، فکر مۀ کوه، اسرا مۀ کوه، سياست مۀ کوه ـ د کريم خان وفا لارې، د صابر حجازي د ازادۍ پسرلے ، بې ځايه مرغۍ، د فاروق سرور سګوان، زمونږ د پښتو ادب د ناول نګارۍ د اٰغاز او ارتقا پړاوونه دي خو په دې ټولو ناولونو او ناول نګارانو کښې د شېر زمان طائزي د ناول نګارۍ موضوعات، اسلوب او رجحانات خپل يو انفراديت لري ـ دوي په پښتو کښې په اول ځل جاسوسي، مهماتي او مافوق الفطرت او د طبقاتي نظام د ناول د رواج او روايت تيره ايښې ده ـ

د ډاکټر طائزي د ناول نګارۍ د دغې صفت او انفراديت په لړ کښې زلمے محقق ښاغلے زاهد الرحمان سيفي داسې رايې لري؛

ډاکټر طائزے پښتو کښې د جاسوسي، مهماتي او مافوق الفطرت ناولونو باني وۀ او اوس د جاسوسي ناولونو د سېريل باني هم شۀ۳

ډاکټر طائزے په پښتو کښې يواځې د فېکشن، افسانوي ادب او د جاسوسي نوعيت د ناولونو ليکلو سرخېل دے بلکې دوي د ناول نګارۍ په تکنيکي او فني اړخ هم ژور نظر لري ـ هم دغه وجه ده چې دوي د ناول نګارۍ په مېدان کښې ډېرې نوې نوې تجربې کړې دي ـ کومې چې په ګل خان، امانت، غونډے، کړکېچ ناولونو کښې ښکاره دي ـ

زلمے ډاکټر حنیف خلیل د ډاکټر طائزي صاحب د ناول نګارۍ په دې اړخ څۀ داسې لیکي؛

> د پښتو ناول په فني ارتقا کښې د ډاکټر شېرزمان طائزي ډېره لویه برخه ده ـ طائزے صاحب وړومبے لیکونکے دے چې د ادب د دغه اړخ ژوره فني او تکنیکي مطالعه هم لري او په علمي توګه ئې په دغه مېدان کښې سترې تخلیقي کارنامې هم کړې دي٤

د دغې محققینو د اقتباساتو نه دا خبره نوره هم تر ثبوته اورسېده چې ډاکټر شېر زمان طائزے د ناول نګارۍ په فن کښې هم وسیع تر تجربه لري ـ د دوي په ناولونو کښې ټول خاصیتونه او صفتونه موندے شي ـ کوم چې د یو کهنه مشق او تجربه کار ناول نګار په فن کښې لکه د ملغلرو پړقېږي او ځلېږي ـ د دوي د قیصې انداز ډېر سپېځلے او زړۀ راښکونکے دے ـ اسلوب ئې روان ساده او د امروزه ژبې یو ښائسته رنګ او انداز دے ـ پلاټ ئې ښۀ په پخو بنیادونو ولاړ دے ـ

په مکالمو کښې د خوږې ژبې د ښکلو رنګینو تورو او د جذباتو امېزش د دوي د ناول نګارۍ ښکاره صفتونه دي ـ

## د ډاکټر طائزي د ناولونو خصوصیات

مونږ چې د بابائے ناول ډاکټر شېرزمان طائزي لیکلي شوي ناولونو ته ځیر شو نو مونږته د دوي هر ناول په فني لحاظ په واړو خوبیو ښائسته او اراسته لیدۀ شي ـ

دوي په ناولونو کښې د قیصې غوندې بنیادي عنصر په داسې فنکارانه توګه راوړلے شوے دے چې جدا جدا واقعات او حادثات د یو ربط او ترتیب سره ئې په خپله لمن کښې رانغښتي دي ـ دغسې په پلاټ کښې ئې هم جدا جدا واقعات او حادثات په یو ښکلي ربط سره یو ځاے کړي دي ـ کردار نګاري هم په ناول کښې د ډېر اهمیت وړ ګڼلے شي ـ کردارونه جامد وي او که متحرك امدادي وي او که مثالي واړو نه د ناول قیصه چاپېره چورلي ـ مونږ چې د ډاکټر طائزي ناولونو ته ځیر شو نو د هغوي په ناول کښې تشریحي او ډرامائي دواړه قسمه کردارونه په مخه راشي ـ ځکه خو د طائزي صاحب په ناولونو کښې چرته د هغوي خپل احساسات ، جذبات او خیالات په مخه راځي او

په ځني ځايونو کښې هر کردار د خپلو خبرو اترو حرکات و سکنات په ذريعه خپله پېژندګلو کوي او دا د طائزي د اعلیٰ پايې د ناول نګارۍ خاصيت دے ـ

طائزي د قدرت د حسن او ښائست يعني د قدرت د فطرتي مناظرو په ژوره توګه مشاهده کوي او بيا د خپلې مشاهدې په قوت دغه منعکس کړے شوي حسنونه او منظرونه د قوتِ متخيله په زور په الفاظوکښې په داسې جاذبه او رنګينه توګه بيانوي چې اغيزې ئې شوخې او جوتې وي او دغه منظر کشي او فطرت نګاري د دوي د ناول نګارۍ حسن دے ـ

د ډاکټر شېر زمان طائزي په ټولو ناولونو کښې د منظر کشۍ او فطرت نګارۍ خصوصيت جوت دے ـ دوي چې د خپلې مشاهدې او قوتِ متخيله په زور د خپل سماج کومه نقشه راښکلې ده ، د خپل کلتور يو تصور ئې وړاندې کړے دے او خپل د چاپېرچل د قدرتي مناظرو کومه فطرت نګاري ئې کړې ده ـ د هغې نه د دوي د ناول نګارۍ ددغه جوت خصوصيت په شدت سره اندازه لګي ـ يعني د طائزي صاحب ناولونه د منظر کشۍ او فطرت نګارۍ غوندې په بنيادي ښائستونو او خصوصيت هم پُر او پوره ده ـ دې سره سره طائزي د ژوند فلسفه او د ژوند ژواک ټولې کړمې او ستونزې د کردارونو په ژبه په داسې هنر سره بيانوي چې هر لوستونکي ته د دوي ناول د خپل ژوند او خپل سماج قيصه ښکاري او هم دغه رنګ سسپينس، تصادم ، د عروج او زوال نکتې د طائزي صېب د ناول نګارۍ خصوصيات دي ـ چې د دوي د فن په پختګۍ شهادت کاندي ـ

طائزي صېب د سسپنس مهماتي ناولونو يو مثالي ليکوال دے ـ ښاغلے تقويم الحق کاکاخېل د ډاکټر شېر زمان د دغې خصوصيت او صفت په حقله داسې ليکي:

ډاکټر شېر زمان په ناول کښې ګڼې تجربې کړي دي او کامياب ناولونه ئې ليکلي دي ـ هغۀ خپل ناولونه د پښتنو ماحول کښې اېښي دي او نۀ صرف دا چې منظرونه ئې پښتانۀ دي.ـ دغه ونې، بوټي، کانې، مرغان او د بنيادم جذبات، خيالات او احساسات ئې هم پښتانۀ دي۵

ډاکټر طائزے د پښتو هغه جديد ناول نګار دے چې د سسپنس، مهماتي او جاسوسي ټائپ ناولونو کښې هم تاريخ او سياست ته ځاے ورکړے دے ـ دوي هر ناول د نورو واړو خوبيو سره سره په جغرافيايي منظرونو او ښائستونو مزين او منورښکاري ـ

ښاغلے ډاکټر سید چراغ حسین شاه د ډاکټر طائزي صاحب د ناولونو په حقله څۀ داسې رایې لري؛

> ځاني ما ته د دوي په ناولونو کښې اخرنے ناول واده ونه شه، کښې ډېر جدت او معیار ښکاري ـ جاسوسي او مهماتي ناول دے ـ اصل موضوع ئې د جادو ټونې ټوټکې ده ـ سیاسي او تاریخي واقعات هم لري او جغرافیایي منظر کشي ئې هم د سیائینې ده٦٥

د دغې اقتباساتو څخه ښکاره ده چې د ډاکټر طائزي ناولونه زمونږ پښتني چاپېرچل د کلتور او پښتني اقدارو امین دي ـ د دوي د ناولونو د لوستونو نه دا برېښي چې دغه ناولونه ښځې د پښتو خپل سوچه ناولونه دي ـ ډاکټر طائزي چې پښتو ادب ته څومره ناولونه پېرزو کړي دي ، د هغو جائزه څۀ په دې ډول ده ـ

ګل خان د ډاکټر شېر زمان طائزي ورومبے ناول دے چې اول ځل په کال 1987ء کښې چاپ شوے وه ـ په دې ناول کښې د یو غېر تعلیم یافته وګړو د ژوند او ماحول هغه قیصه ده چې د بې ځایه پښتو او جهل په وجه پکښې مرګ ژوبلې کېږي او هم دغه غلطو روایاتو د پښتو نامه بده کړې ده ـ تربګني، تربور ولي او د مال جائیداد تنازعې د دې ناول د قیصې بنیادي محرکات دي ـ د ګل خان د ناول ټوله قیصه د پښتني ماحول عکاسه ده او په جغرافیایي توګه پکښې د دنګو دنګو غرونو د درو د اېشارونو ، ونو ، بوټو منظرکشۍ ډېر بل شان ښائست پیدا کړے دے ـ د دې نه پرته د طائزي صاحب په دې ناول کښې چې کومه بنیادي او مقصدي نکته ده هغه د زلمي کول تربیت او لارښودنه ده، د دې ناول په پلاټ او قیصه کښې چې څومره کردارونه دي ، هغه ددغې عالي مقصد د ارتقا او نتیجې د پاره ادا کېږي ـ د منظر او احساساتو په دې ناول کښې ډېره زیاته هم اهنګي ده ـ کۀ په ژور نظر اوکتے شي نو د ګل خان ناول پلاټ ډېر ساده سوده او عام شانې دے خو چې کومه اخلاقي نقطه پکښې چورلکونه خوري هغه په ساده ۋ کښې ساده ده ـ قیصه ئې په زړو چوکاټونو اډانه کړې ده ـ د ګل خان ناول د دغې پورته ذکر شویو خاصیتونو په لړ کښې ستر محقق ښاغلے سید تقویم الحق کاکا خېل داسې وایي :

د ګل خان قیصه د پښتو قیصه ده او د پښتو ماحول کښې ده ـ غرونه دي، دره ده، دنګې ونې دي ، يخه يخه هوا ده ، مستې مستې اوبهٔ دي، لېوان دي، هوسۍ دي او پښتانهٔ زلمي او پېغلې دي ـ د چنارونو او ټوپکونو په سپوري کښې د ژوند نوي نوي اړخونه دي۷

لکه څنګه چې د سيد تقويم الحق کاکاخېل صاحب د دې اقتباس نه د ګل خان د قيصې اخلاقي نقطه عيانه ده يعني په دې وېنا کښې د پېغلو او زلميو د اصلاح مقصد بنياد ګرځولے شوے دے ـ

د ګل خان د موضوع په حقله زلمے محقق مصطفیٰ کمال صاحب داسې ليکي:

"گل خان کا بنیادی موضوع پشتونوں کی روایتی دشمنی ہے۔ گل خان کے مرکزی کردار گل خان کو پشتون معاشرت کے روایتی پشتون کے وفادار اور جفاکش نوکروں کی علامت کے طور پر پیش کیا گیا ہے۔ جن کے دم قدم سے ان کے مالک اسودہ حال اور خوشحال رہتے ہیں۔ گلاب ایک حوالے سے گل خان کا متضاد کردار ہے جو اپنے مالک نادر خان کو بدنیتی پر اکساتا ہے 8"

ژباړه:- د ګل خان بنيادي موضوع د پښتنو روايتي دښمني ده ـ د ګل خان مرکزي کردار ئې د پښتنو معاشرت کښې د روايتي پښتنو وفادار او جفاکش نوکر د علامت په څېر وړاندې کړے شوے دے ـ د چا دم او قدم سره چې د هغهٔ مالک اسوده حاله او خوشحاله اوسي ـ ګلاب په يوه حواله د ګل خان متضاد کردار دے ـ څوک چې خپل مالک نادرخان په بدنيته کولو اماده کوي ـ

په دې ناول کښې اصلاحي اړخ ډېر په شوخ او جوت انداز کښې پېش شوے دے او د صحيح پښتو ترجماني ورکښې په ډېر جذباتي او ريښتوني احساس شوې ده ـ

صحيح پښتني اقدارو او رواياتو ته ئې په غلطه پښتو برے ورکړے دے ـ ګل خان د دغې خصوصياتو او ځانګړتيا په سبب د پښتو ادب د ناولونو په تاريخ کښې اوچت مقام حاصل کړے دے ـ

د ډاکټر صاحب بل ناول امانت دے چې په کال 1971ء کښې چاپ شوے دے۔ دا ناول هم لکه د ګل خان د پښتني او کلي وال ماحول يوه مشاهده ده ـ د دې پلاټ دخانانو او نوابانو په عېش

عشرت او شرابو کبابو په محفلونو بنا کړے شوے دے ـ د مظلومیت او د غورځېدلې غرېبې طبقې عکاسي پکښې په ډېرو زوردارو ټکو شوې ده او هم دغه هغه مشاهدات دي چې د ډاکټر طائزي د "امانت" قیصه ئې ژوند ته ډېره نزدې کړې ده ـ

ښاغلے ډاکټر حنیف خلیل د امانت په لړ کښې داسې لیکي؛

> امانت د خانانو نوابانو د عیاشو، مستۍ او شراب کباب په محفلونو لیکلے شوے دے چې د پښتنې معاشرت عکاسۍ سره په کښې د نوابانو د عیاشۍ سره سره ئې لاندې طبقې د غربت او مظلومیت خاکه هم وړاندې کړې ده دغه لاندې طبقې د مظلومیت خاکه د پښتنې معاشرې خپل عکس دے۹

د امانت قیصه د معتبر او جانانې نه چاپېره چورلي ـ د خانانو او نوابانو له اړخه چې په دوي ځومره ظلم، جبر او زیاتے کېږي او بیا دغه شان نور کردارونه چې د دې قیصې برخه ده زمونږ د عام اولس د ژوند د چاپېرچل کردار ښکاري ـ

محترم پرېشان خټک صاحب د دوي د ناول نګارۍ د فن د دغې خصوصیت په لړ کښې داسې لیکي؛

> د یو داسې پښتنې ماحول عکاسي ئې پکښې کړې ده چې په هغې کښې هر یو کردار به ما ته په څۀ نا څۀ موقع خپل پېژندګلو ښکارېده او د ریاستي نظام هغه، هغه پردې ئې پکښې پورته کړې دي لکه چې لیکونکي ټول عمر د چا نواب صاحب په دربار کښې تېر کړے وي او د ریاست د عامو خلقو د ژوند نه واخلې د صوبېدارانو، تحصیلدارانو، ملایانو، عن تر ډمانو پورې ډېره ښۀ خاکه راښکلې ده ۱۰

د پرېشان صاحب د دغه اقتباس نه دا څرګندېږي چې طائزے صاحب یو حقیقت پسند لیکوال وۀ او د خپل پښتنې فطرت په سبب د یو پښتون د سماجي ژوند د قبیلوي تضاداتو نه هم ښۀ خبر وۀ ـ دوي د خپل قلم په څوکه د مظلوم او د خوار اولس د ژوند نقشه بدلول غوښتل ـ

لنډه دا چې ډاکټر طائزے یو پوخ لیکوال او د جاسوسي ناولونو سرخېل ناول نګار دے چې په تاریخ هم عبور لري او د ناول په فن هم ۔ په فطرت نګارۍ هم پوهېږي او په نفسیاتي څېړنه هم د ژوندمطالعه و تجزیه ئې هم ډېره شوخه او تېزه ده ۔ په معاشره تنقید هم کوي او اصلاح ئې هم کاندي ۔ د تعلیم او غېر تعلیم یافته امتیازاتو په وړاندې کولو کښې هم ښۀ ماهر دے ۔

## ماخذونه


۱: طائزے شېر زمان ، امانت ، ص ۴۹

۲: هم دغه کتاب ، ص ۴۹

۳: سېفي زاهد الرحمان، د شاهکار ناولونو مصنف د ډاکټر شېرزمان طائزي کړکېچ سرېزه، صفحه vii چاپ 2009ء خوروونکي کامل پښتو ادبي جرګه پېو سیمه، پېو

۴: خلیل حنیف ډاکټر، پښتو ناول تحقیقي او تنقیدي جائزه، صفحه 62 چاپ جنوري 2000ء

۵: تقویم الحق کاکاخېل سید ، پښتو پرون نن او سبا، پښتو ناول صفحه 244 چاپ جنوري 2006ء خوروونکے پښتو ادبي چمن ټل

۶: چراغ حسین سید ډاکټر، پښتو پرون نن او سبا، پښتو ناول صفحه 244 چاپ جنوري 2006ء خوروونکے پښتو ادبي چمن ټل

۷: طائزے شېر زمان، ګل خان صفحه 6

۸: *کمال مصطفٰی، پشتو ادب کے جدید رجحانات، مرتبہ عبداللہ جان عابد، سال اشاعت دسمبر 2008ء یونیورسٹی پبلشرز افغان مارکیٹ قصہ خوانی پشاور صفحہ 108*

۹: خلیل حنیف ډاکټر، پښتو ناول تحقیقي او تنقیدي جایزه صفحه 65

۱۰: غمژن شېرزمان طائزے، امانت، سریزه پرېشان خټک صفحه 5-6 چاپ1971ء حمیدیه پرېس پېښور